# دا چې : ( سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ) ووایم؛ دا راته له هر هغه څه نه غوره دي چې لمر پرې راختلی دی

له ابو هریره -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایي چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي: «دا چې : ( سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ) ووایم؛ دا راته له هر هغه څه نه غوره دي چې لمر پرې راختلی دی».

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې په دې سترو کلماتو سره د الله جل جلاله یادول له دنیا او څه چې پکې دي غوره دي او هغه (کلمې) دا دي: "سبحان الله": له نیمګړتیاوو څخه د الله جل جلاله پاکوالی. "الحمد لله": له محبت او تعظیم سره د کمال په صفتونو د هغه ستاینه. "لا إله إلا الله": له الله جل جلاله پرته بل حق معبود نشته. "الله أكبر" الله جل جلاله له هر شي لوی او ځواکمن دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6211